صلاح الدین سعیدی ۲۰۱۹/۰۵/۰۶

# لویه جرګه او د پرېکړې لیک مسوده!

لویه جرګه د افغانستان په ماضي او حال کي مهم رول لره او د سترو فیصلو با اعتباره مرجع وه. اوس هم زمونږ په کلو او بانډو کي یو شمېر مهم مسایل په جرګو حلوي.

د جرګو تصامیم وجیبوي دي او په لیکلو قوانینو کي د لوی جرګي تعریف شوای او نن په سترو ملی مسایلو کي هماغه زمونږ اساسي قانون کي تعریف شوې لویه جرګه اعتبار لري.

د مشورتي لوی جرګي په نامه زمونږ حقوقی سیستم نه پېژني !

د افغانستان جمهور رئیس حق، امکانات او دیني وجیبه لري چي مهمو مسایلو کي له خلکو سره مشورې وکړي. که دا مشورې د هغه قانوني تعریف شوې جرګي نه بهر وي نو بیا هغه نتایج چي جرګه ورته رسېدلې وجیبوي او واجب الاجراء نه دي.

اوسنی لویه مشورتي جرګه د الله (ج) له هدایت سره سم، د افغانستان د جمهور رئیس له صلاحیته سره سم د جمهور رئیس د ۱۳۹۷ هجری قمری کال د کب د میاشتي د شلمي نیټي له فرمان سره سم د ۱۳۹۸ هجری قمری کال د غوایی د میاشتي له ۹ نه تر ۱۳ نیټي پوري د سولي د حدودو او ثغورو د تعیین لپاره جرګه شول. په دې جرګه کي د افغانستان او بهره ۳۲۰۰ تنه ګډون وکړ او ګډونوالو چي بعضي یي د جرګي غړي، استازي او یوشمېر بیا میلمانه بلل شوي وه چي د رأی حق یي نه درلوده. خو بیا روسته ټول د جرګي غړي وبلل شول. دغه جرګي لمړی په څلورو یا پینځو ورځو کي په ۵۰ کمیټو کي غونډی وکړي.

دغه غونډو کي پرهغو سوالو بحث او جواب ورکړل شو، کوم چي د جرګي له مشرتابه او اداری هیئات لخوا غوره شوې وې.

داسي هم وویل شول چي دا پوښتني د افغانستان د علومو اکادمی لخوا جوړې شوې وې. یو له پوښتنو دا هم وه چي د سولي او مصالحي برخه کي څه نه دي شوي چي باید وشي؟

شرع ظاهر ته ګوري او د پردې هغه خوا په حالاتو خبر نه یو خو

د دغي مشورتي لوی جرګي رئیس د افغانستان د جمهور رئیس محمد اشرف غني لخوا جهادي مشر، شیخ الحدیث عبدالرب رسول سیاف د جرګي له مخه د هغه په کور کي انتصاب شو او اداری هئیات او دارالانشاء د عمومي ناستي لخوا غوره شول .

هو شرع ظاهر ته ګوري او پر زړونو الله (ج) خبر دی خود غونډی جریاناتو او د محترم عبدالرب رسول سیاسیاف جهادي شخصیت او او اسلامی پوه او په جرګه کي رغنده مواضع د دې جرګي د مرکزي ثقل او قوت مرجع وه او د او په کل کي جناب عبدالرب رسول سیاف د افغاني سولي او همغږی په برخه کي ستر مثبت رول ولوباوه. الله (ج) دې ورته د تېرو خطاء ګانو تېر او ستر اجرونه دې ور نصیب شي .

د دې جرګي د عمومي غونډی پریکړه لیک د لوی جرګي د رئیس له خولي د غونډی په روستی ورځ(۲۰۱۹/۵/۳میلادي کال) د سهار تر اته نیمو بجو به پېنتو او دري تسوید شو چي عمومي ناستي ته د تصویب لپاره وړاندی شي .

ددي ۲۳ ماده ایز پریکړه لیک مسودې پښتو متن محترم رفیع الله حیدري او دري متن يې محترمې ډاکټر عاطفي طیب ددي مشورتي لوې جرګي ته د غور، نهايي کولو او تصویب لپاره وړاندې او ولوست. ددې مسودې له لوستلو روسته د افغانستان جمهور رئیس اختتامیه غونډی ته دعوت شو او بیا محترم شیخ الحدیث عبدالرب رسول سیاف اختتامیه خبرې وکړې. محترم جمهور رئیس د جرګي دا مسوده پریکړه لیک د خپل حکومت تګلاره ومنله او د عملي کولو وعده يې ورکړه. د مبارکي روژې په مناسبت چې درې ورځ روسته ده او ددې جرګي د غوښتني په مناسبت يې خپل چمتوالی اوربند ته وښود او د طالبانو ۱۷۵ تنه اسیران يې چې له کلنو کلنو بندیان وه د خوشي کولو امر وکړ .

دلته ځو خبرې د دقت دي چې د لوې مشورتي جرګي پریکړه لیک مسوده پاتي او تصویب نه شو،

د جمهور رئیس د فرمان او اظهاراتو له مخې چې دا دی ۱۷۵ تنه د کلونو کلونو طالب زندانیان خوشي کوي، داسي پوښتنه راولاړوي چې دغه بندیان له څوکلو او د کومو محاکمو په امر زندانو کي وه او د بګرام، پنجشیر او داسي نور بهرنیو مشهور او غیر مشهور زندانونه د بهرنیانو لخوا بیا افغانستان کي احیاء شوي که څنګه؟

.دغه بندیان د کومي محکمي لخوا محکوم شوي وه او که همداسي وي چې نه ښکاري، د حبس مدت يې څوکاله مخکي پوره شوې وه؟ داسي نور څو د کلونو کلونو! طالب او یا نور زنداني د ده له حکومت او یا د افغانستان په خاوره د افغان زور واکو او پردو لخوا زنداني دي؟

همدارنګه د جمهور رئیس محمد اشرف غني د حضرت محمد (ص) د أديبي د سولي نه مراد څه وه. منظور د هُدیبیه سوله وه که څنګه او هلته اختلاف څه وه؟

طالب ته په افغانیت او اسلامیت سوګند او قسم ورکړل شو .

داسي قسم او سوګند اسلام کي نه شته .

راشو د پریکړه لیک د مسودې وړاندې شوي او لوستل شوي متن ته چې تر اوسه لا تصویب نه دی خو جرګه خلاصه شوه.

سریزه او اولنۍ مادې :

دلته د تل پاتي سولي او د با عزته سولي خبر ذکر نه دی راغلای. افغان اولس دا اجماع لري چې با عزته او تل پاتي سوله غواړي او مونږ په هر قیمت او د سبا د جنګ لپاره د تیاری سوله نه غواړو .

د سولي لپاره د افغاني، سیمه ایز او نړیوال اجماع غوښتنه غلونکي او مشکل جوړونکي غوښتنه ده.

هو نړیوالواجماع او افغاني اجماع به وي چې شته. خو دا پاکستاني استابلشمنت او ایرانی حاکمیت ته د منلو نه ده چې افغانستان کي سوله او استقرار راشي او نړې دې دوی ته وزګاره شي. پاکستان او ایران زمونږ اوبه، لرګي، برق، لارې، بشري قوا، بازار، سیاست او ... تر خپلي ولکي او خپلي اداري لاندې ساتل او مفت غواړي. که افغانستان کي سوله او استقرار راشي نو دوی به له دنیا خپلي جزیي اخیستو کي ادامه ورکړای شي؟ دوی به د افغانستان داخل کي د طالب او ترور تر تهدید لاندې زمونږ خاوره لاندې او هره ورځ به زمونږ پرخلکو راکتونه وه اوروالای شي؟ زمونږ پر خاوره به په خپله خوښه اغزن تار او دروازې ودرولای شي؟ جواب نه دی. له دوی نه اجماع اخیستل ځان غولولو او احمقانه غوښتنه ده. سیاست کي خبر او خیرات نه شته !

د پرېکړه لیک د مودې دربیمه ماده: یو حزب او ایدیولوژیکي مصالحه مشکل او حتی ناممکن کار دی او خپله د اسلام دین په خپل اعتراف حد اقل ۷۲ فرقي او فهمه دي او دا زمونږ له توانه اوچته ده چې ایدیولوژیکی مصالحي باندي کار وکړو.

پینځمه ماده: د نظام حفظ او عدم حفظ د مذاکراتو اجندا نه ده او دا د ولس کار دی.

شپږمه ماده کي د اساسي قانون په دوام او بیا تغیر یي د سولې روسته د قانون له لارې غوښتنه چې معقوله ده، خود دا مسایل د سولې د مذاکرې برخه نه ده او تکراری ده. د طالب غوښتنه او موضع هم مالومه ده. د اجندا بهره موضوع ده او دا د اولس کار دی .

اومه ماده د بشر د اساسي حقوقو مراعات چې بیا هم د سولې د مذاکرې له اجندا بهر او دا تصمیم د ملت حق دی او نه د طالب او هغه هم د مذاکرې د میز په سر. د سولې د مذاکرو د اجندابهر ( نور یواځې د اجندا بهر بحث لیکو).

د بشر د حقوقو د موادو برخه کې یوه هم د همسکسوال او ... تساوي او منل دي. تاسي همدا غواړئ چې طالب یي ومني؟

اتمه ماده: د افغان امنیتی ځواکو پیاوړتیا غوښتنه چې د مذاکرې له بحثه بهر بحث دی .

نهمه ماده: د طالبانو دفتر کابل ته د خلاصو پرهارو او رواني مرګ او ژوبلې له کبله غیر عملي او د سر خطره یې لوړه ده. زخمونه تازه او پروني دي .

غیر عملي غوښتنه !

دولسمه ماده: د خنډونو د مېنځه وړلو سفارش کوي خو همدا ټول خنډونه دې دغه پرېکړه لیک مسودې په مادو کې تاسي موانع وړاندیزونه کوئ !

پینځلسمه ماده: چې د همسایګانو د مداخلې باید امنیت شوراء ته شکایت وشي ښه خبر خو تر ننه نتیجه ورنکړه. سیاست کې خبرات نه شته، ولې د بالمثل عمل سفارښت نه کیږي؟

افغانستان ډېر بالقوه امکانات لرل او یو څه لري چې بالفعله نه شول او نه کیږي !

شپاړسمه ماده: دخلکو استاځي تعریف مو مغشوش کړ. د خلکو استاځي د یو وطن پارلمان وي او جرګه د ټولني طبیعی اتوریته وي او د انتخاب خبر نه وي او نه ده .

اولسمه ماده: بې طرفه بنسټ مشکل دی چې بې طرفه نه شته خو دا ۱- مناظره کوونکي تیم

په ۱- مباحثه او مذامره کوونکي

او ۳- تخنیکی ټیم تقسیم شي

اتلسمه ماده: د لویې جرګې غړي چې رایه ورکوي او میلمانه چې ناظر دي تقسیم نه شول .

نولسمه ماده :

د طالب غوښتني په مشروع او نا مشروع ویشل راته عجیبه تقسیم ښکاري

شلمه ماده: ښه پیغام

یوویشته ماده: جرګه راځي او فیصله کوي او ځي. دا جرګه راغله، پریکړه لیک یې فیصله نه کړ خو لاړه. اما جناب جمهور رئیس وایي چې دوام لري او دیجیتال رابطه به وي. دا رابطه که ملت او پارلمان سره وي بهتره به نه وي؟ عجیبه حالت دی !

دوه ویشتمه ماده:دا ماده د قانون مطالبه ده دلته ضرورت نه شته .

درویشتمه ماده :

سند چاپ او نشر شي. خو اول خو تاسي د پریکړه لیک تصویب کړئ .

دوی د سیاسي مصالحه او ایدیولوژیکي مصالحي او مذاکره فرق ونه کړ. مونږ سیاسي مصالحه کوو او د افغانستان یو حزبي کول بیا د ایدیولوژیکي مصالحه ده چي هغه ممکنه هم نه ده .

اعتراف او ویل په کار دي چي ددې لوی مشورتي جرگي جریاناتو او د پرېکړه لیک مسودې ثابته کړه چي د امریکي په لاس د یو شمېر مطرحوا!؟ جوړ شوو افغاني سیاستوالو ادعاوې غلطي ثابتي کړې چي گویا محمد اشرف غني د افغانستان اوسنی جمهور رئیس ددې جرگي نه د خپل ځان د دوام فتوی اخلي او د ځان په گټه کاروي. د دې جرگي د بحث جریانات یواځي او یواځي د سولي او مذاکرې ناقصه خبرې او ناقصه پرېکړه لیک مسوده وه او کومه بله سیاسي موخه و نه لیدل شوه !

په دې لویه مشورتي جرگه کي د پاکستاني استابلشمنت اساسي افغان ضد، افغانستان ضد او سوله ضد نقش او د هغوی تسلط پر تروریستی ډلو او د طالبانو پر دې ډلي چي ملاهیبته الله یې مشري کوي له یاده وویستل شو. دا له یاد وویستل شول چي د طالب امنیت، دواء، د زوی، لور، ښځې، مکتب او پرواز یې د پاکستان په لاس کي دی .

د سولي د پروسي مالکیت انحصار د افغان کابل د حکومت او د یا د طالب دغه ډلي سره نه بلکي د ټول افغان ولس سره دی چي د طالب دغه ډله او د کابل د حکومت یې جز دي.

د په یاد ولرو چي د سولي او جنگ لاملاونه به ډېر وي چي دي، خو د افغان دغمیزې او د سولي د خطر او تهدید یو ستر او اساسی لامل د پاکستان استابلشمنت دی. تر هغه چي دا غیر شرعي موجود د پښتنو او بلوڅو باندې ظلم او ناروا کوي او بنیاد یې د ترور او دهشت تربیت، روزنه او صدور دی، نه به افغان اولس سوله ووېني او نه به نړۍ په دې سیمه کي د ترور او دهشت له بلا خلاص شي.

پښتنو او بلوڅو ته د هغوی حق ورکول او د نامشروع او د بل پر خاوره د پاکستان- پنجاب زمامداري ختمول د حل اساسي او بنسټیز حل دی. نوري لارې اوږدې، د سترو قربانیو ډکي او حتی غیر عادلانه دي !

دا له یاده وویستل شول چي سیاست کي خیر او خېرات نه شته او پاکستان دا لنگه غوا له لاسه ورنکړي.

طالب واحد قوت نه دی او د بعضي زیارتونو انفجار او کنړ کي حالات ثابتوي چي داعشي ځواکونه د طالب ځای نیسي.

طالب د اوربند توان نه لري او واحد نه دی. تېر اوربند کي تر اویا زیات افغان سرباز شهیدان شوي وه چي عمداً تبلیغ نه شول. نو د افغان غمیزه لا اوږده ده او چي کار اهل کار ته ونه سپارل شي دا لړۍ به ادامه لري او نوره به هم اوږده شي.

هو کار باید اهل کار ته وسپارل شي او که ونه شي نو دا به مو حال وي. فاعتبروا یا اولی الابصار